**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب سایټ:** http://unama.unmissions.org

## د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی ښاغلی کای آیده د ویاند بیانیه

تیره شپه شاوخوا په لس بجو او دیرشو دقیقو باندی د ملګرو ملتونو دفتر د هرات په ولایت کی د دولت ضد عناصرو له خوا تر برید لاندی راغی. اوه راکټونه فیر شوي دي چی دوه یی د ملګرو ملتونو د دفتر په منځ کی لګیدلي دي. په خوښي سره د ملګرو ملتونو هیڅ یو کارکوونکی ته په دی پیښه کی زیان نه دی رسیدلی او زموږ دفتر خپل کار ته ادامه ورکوی.

موږ دا قصدی برید په ملګرو ملتونو باندی په افغانستان کی غندوو.

د ملګرو ملتونو د سازمان کارکوونکي په افغانستان کی د دی لپاره دي څو تر ټولو زیانمن کیدونکو ټولنو ته په دی هیواد کی مرسته ورسوي. هغه بی طرفه کار چی موږ د افغانستان د خلکو لپاره کوو هغه ته باید درناوي وشئ. موږ پر دی ټینګار کوو چی افغان چارواکي دی هر هغه هڅي په کار واچوي تر څو د دی برید لاملین پیدا او د هغوی څخه د دی عمل حساب وغواړي.

کابل د جولای د میاشتی ۲۸ نیټه